پہ دې اوړي کې د کاليفورنيا له ايالت سره د بريښنا بنديدو په مخنيوي کې مرسته وکړئ. ګډونوال د لوړې تقاضا او بېړنيو حالاتو پر مهال د برېښنا د مصرف د کمولو په مقابل کې پيسې ترلاسه کوي چې هدف يې په نوبتي ډول د برېښنا د بندېدو مخنيوی کول دي. ګډون کول په خپله خوښه دي او د برېښنا د مصرف نه کمولو لپاره کومه جريمه نشته.



## د برنامې پېژندنه

د برېښنا د سپمووڼکي د مکافاتو برنامه ځايي پيرودونکو ته د برېښنا د لوړې تقاضا په مهال په خپله خوښه د خپلو عمومي برېښنا د مصرف د کمولو لپاره پيسې ورکوي.

## ستاسو او ستاسو د کور لپاره يې امتيازات

د برېښنا د سپمووڼکي د مکافاتو په برنامه کې برخه اخيستونکي به د فليکس Flex خبرتيا يا د ايالت په کچه د شبکې اړوند نورو بيړنيو حالاتو پرمهال د برېښنا د لړ مصرف له امله د هر کيلو واټ په مقابل کې 1.00 امريکايي ډالره کريډيټ ترلاسه کوي.

## څوک پکې د ګډون کولو وړ دي؟

هر اوسېدونکی چې د SDG&E® بريښنايي خدماتو پيرودونکي وي او ځيرک (سمارټ) ميټر ولري. ځايي پيرودونکي نه شي کولی د، د ظرفيتي داوطلبۍ يا د دريمې ډلې برنامې په ګډون د SDG&E په بل تشويقي (مراعاتي) برنامه کې برخه واخلي. د نورو جزياتو لپاره رسمي شرايطو او مقرراتو ته مراجعه وکړئ. هغه ځايي پيرودونکي چې د يو ټولنيز انتخاب راټولونکي (CCA) يا مستقيم لاسرسي (DA) سره ګډون کوي، د دې برنامې لپاره په شرايطو برابر دي.

## دا برنامه څه ډول ترسره کيږي؟

د شبکې د بېړني حالت په اوږدو کې، د کاليفورنيا خپلواک سيستم چلوونکی (CAISO) به د فليکس د خبرداري ځانګې (Flex Alert) ته يو زنګ ووهي. کله چې دا کار کيږي، SDG&E به د برېښنا د سپمووڼکي د مکافاتو د برنامې د حوادثو ځانګې ته زنګ ووهي او د پيښې څخه يوه ورځ مخکې به خبرتياوې ور ليږل شوي وي.

## اړيکه

د نورو جزياتو لپاره يا د برېښنا د سپمووڼکي د مکافاتو په برنامه کې د شموليت لپاره، له ***sdge.com/powersaver*** څخه ليدنه وکړئ.

### د برنامې شرايط

د برېښنايي بيل د اعتبار ترلاسه کولو لپاره، تاسو بايد د هغه په پرتله لږ برېښنا وکاروئ چې معمولا يې د برېښنا د سپمووڼکي د مکافاتو د برنامې په ترځ کې مصرفوئ.

### (تشويقولو لپاره) مراعات ورکونه

**1.00**

امريکايي ډالره

په کيلو واټ کې (برېښنا)

### د خبرتيا موده

له پيښې څخه يوه ورځ وړاندې

### ګډون

پيرودونکي نه شي کولی د، د ظرفيتي داوطلبۍ يا د دريمې ډلې برنامې په ګډون د SDG&E په بل تشويقي (مراعاتي) برنامه کې برخه واخلي.

### خطر

د خپلې برېښنا د مصرف د نه کمولو لپاره په تاسو کومه جريمه نشته.

آنلاين

***sdge.com/powersaver***

د تيليفون شمېره

**1-800-411-7343**



© 2024 د سنډياګو ايالت ګاز او بريښنا شرکت. سوداګريزې نښې د دې شرکت د اړوندو مالکينو ملکيت دی. ټول حقوق يې خوندي دي.